که خلک پوهېدلی چې په اذان او د لمانځه په لومړي صف کې څه دي (څومره ثواب دی) بیا یې لدې پرته بله لار نه موندله چې پچه پرې واچوي، نو پچه به یې اچولې وای

له ابوهريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "که خلک پوهېدلی چې په اذان او د لمانځه په لومړي صف کې څه دي (څومره ثواب دی) بیا یې لدې پرته بله لار نه موندله چې پچه پرې واچوي، نو پچه به یې اچولې وای، او که پوهېدلی چې لمانځه ته په وختي تللو کې څومره (ثواب) دی، نو یو له بل څخه به مخکې کېدل؛ او که پوهېدلی چې په ماخوستن (عِشاء) او د سهار په لمانځه کې څومره (ثواب) دی، نو خامخا به ورته حاضر شوي وو که څه هم په خاپوړو وای".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلی الله عليه وسلم خبر ورکړی چې که خلک پوهېدلی چې په اذان او د لمانځه په لومړي صف کې څومره فضيلت، خير او برکت دی، او بیا یې د دې لپاره د وړاندې کېدو او لومړيتوب هېڅ لاره نه موندله پرته لدې چې قرعه (پچه) پرې واچوي چې څوک يې مستحق دی، نو قرعه (پچه) به يې اچولی وای، او که پوهېدلی چې لمانځه ته په لومړي وخت کې حاضرېدل څومره اجر لري، نو له يو بل څخه به مخکې کېدل، او که پوهېدل چې د ماخوستن او سهار لمونځونو ته په تللو کې څومره ثواب دی، نو تلل به يې اسان ګڼلی وو که څه هم په خاپوړو سره وي، لکه څنګه چې ماشوم لومړي ځل لپاره خاپوړې کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65735